افغان کرکټ

AFGHAN CRICKET

بریـــــا د ټولو هیله

اووم کال، لسمه گڼه

اکتوبر - ۲۰۲۰ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنۍ مجله
اکتوبر - ۲۰۲۰



مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي:
پرهیز شګیوال او حکمت الله دولتزی

عکس اخیستونکي:
سید حسرت سادات او صدیق الله عابد

ډیزاین: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزیزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لړلیک

سرمقاله	١
مس عینک لوبډلې د غازي امان الله خان جام سیالیو د اتلولۍ مقام وساته	٢
د ١٦ کلنو کم عمره لوبغاړو سیالۍ	١٦
په نږدې راتلونکي کې د ایمرجېنګ لوبډله هم جوړیږي	٢٠
د ننګرهار د بهسودو کرکټ لوبغالی د نجیب تره کي په نوم ونومول شو	٢٢
تیم کرکت معلولین سپین غر جام نجیب الله تره کی را از آن خود نمود	٢٦
داداري ځانګې له مسول سره مرکه	٣٢
د افغانستان د کورني کرکټ له ځلانده ستوري عظمت الله عمرزي سره ځانګړې مرکه	٣٦
د کرکټ نړیوالو شل اوریزو سیالیو کې د ډېرو وېکټو تر لاسه کوونکو لوبغاړو پېژندنه	٤٢
IPL 2020 10 Things which makes 13th IPL edition different	٥١

سر مقاله

له شک پرته د کورني کرکټ پیاوړتیا پر ملي لوبډلې او نړیوال کرکټ مستقیماً اغېز لري، په دې معنا په کورني کرکټ کې چې کوم استعداد روزل کېږي نو سبا ورځ په ملي لوبډله کې هېواد ته ویاړونه راوړي .

افغانستان کرکټ بورډ د روان ۲۰۲۰ز کال په اکتوبر میاشت کې د زونونو په کچه د غازي امان اللّه خان جام یو ورځنی یا (لېسټ اې) لوبې ترسره کړې چې لوبغاړي ډېر ښه پکې وځلېدل . دغه سیالۍ چې د کندهار په کرکټ لوبغالي کې د لومړي ځل لپاره ترسره شوې، اتلولي یې د مس عینک لوبډلې په خپل نوم کړه .

شپږیزه کرکټ لیګ او غازي امان اللّه خان جام سیالۍ د هېواد په کچه هغه سترې سیالۍ دي چې له یوه یې شل اوریزو نړیوالو او له بل یې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو ته لوبغاړي روزل او چمتو کېږي او د دواړو بڼو پر لا ډېرې پیاوړتیا اغېز کوي . له دغو لوبو ډېر ځوانان رامخته شوي چې اوسمهال په ملي لوبډلو کې لوبیږي .

دغه راز اداري، له ١٦ کلنو د کم عمره روزنځایونو د لوبغاړو لپاره هم په کابل کرکټ لوبغالي کې لوبې برابرې کړې، چې پکې یو شمېر تنکي ځوانان خورا ډېر وځلېدل او د اداري له لوري وستایل شول چې دا هم د اداري یو بل غوره او پر ځای اقدام و .

نو سږ کال که څه هم د ځینو دلایلو له امله نړیوال کرکټ کم و، خو اداري یې پرځای کورني کرکټ ته ډېره پاملرنه وکړه چې د نړیوال کرکټ لپاره به دغه خواري رنګ راوړي او اتلان به پکې ځلیږي .

درنښت

مس عینک لوبډلې د غازي امان الله خان جام سیالیو د اتلولی مقام وساته

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام لېسټ اې څلورم پړاو سیالۍ سږ زېږدیز کال (۲۰۲۰ز) یو ځل بیا مس عینک لوبډلې د امو لوبډلې ته په ماتې ورکولو سره په خپلې اتلولۍ سره پای ته ورسولې او د یادو سیالیو جام یې په نوم کړ. یادې سیالۍ د کندهار په کرکټ لوبغالي کې د دروان کال د اکتوبر میاشتې په ۱۰مه نېټه پیل شوې چې د همدې میاشتې تر ۲۲مې نېټې پورې یې دوام وموند. په یادو یو ورځنیو سیالیو کې د زونونو په کچه پنځو لوبډلو هرې یوې (مس عینک لوبډلې، سپین غر لوبډلې، امو لوبډلې، بند امیر لوبډلې او بست لوبډلې) ګډون درلود چې دیارلس ورځې یې دوام وموند چې لاندې د یاد ټورنمنټ ټولو سیالیو ته په ځغلنده ډول اشاره کوو.

لومړۍ لوبه : بست لوبډله د بند امیر پر وړاندې

د یاد پړاو په لومړنۍ او پیلیزه لوبه کې بند امیر لوبډلې سیال لوري بست لوبډلې ته د شپږو ویکټو په توپیر ماتې ورکړه او د دغه پړاو لومړۍ بریا یې خپله کړه. د یادې لوبې پچه بند امیر ښامارانو ګټلې وه چې سیال لوري ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بست لوبډلې په ۳۵ اورونو کې ټولې ویکټې له لاسه ورکړې او یوازې ۸۹ منډې یې ترلاسه کړې چې له ډلې یې منیر احمد د نورو په پرتله ډېرې ۳۴ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې، په داسې حال کې چې بند امیر ته په توپ اچونه کې حمزه هوتک ۳، نجات مسعود او وقار سلام خېل ۲-۲ ویکټې واخیستې. وروسته بند امیر لوبډلې د ټاکلي هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه. بند امیر لوبډلې د لوبې په ۱۸ اورونو کې د ۴ ویکټو په غورځېدو سره ټاکلی هدف پوره کړ او له سیالې لوبډلې یې د ٦ ویکټو په توپیر بریا خپله کړه.

دويمه لوبه : سپين غر د مس عينک پر وړاندې

په دغه لوبه کې سپين غر لوبډلې د لوبې پچه وګټله او لومړی يې سيال لوري ته د توپوهنې بلنه ورکړه. مس عينک لوبډلې په دغه لوبه کې سيال لوري ته د ۱۸۳ منډو هدف وټاکه چې له منځه يې غمې ځدراڼ ۵۷ او رحمت شاه ۲۸ منډې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې سپين غر ته په توپ اچونه کې سميع الله شينواري ۴، قيس احمد او افتاب علم ۲-۲ ويکټې ترلاسه کړې. وروسته سپين غر لوبډلې توپوهنه پيل کړه چې په ۳۴،۱ اوړونو کې يې د ۱۴۵ منډو له ترلاسه کولو وروسته ټولې ويکټې له لاسه ورکړې او د ۳۷ منډو په توپير يې لوبه وبايلله. سپين غر ته په توپوهنه کې قيس احمد ۳۵ منډې وکړې، په داسې حال کې چې مس عينک ته په توپ اچونه کې حسيب الله ۵ او ظاهر خان ۳ ويکټې واخيستې او خپله لوبډله يې تر بريا ورسوله.

دريمه لوبه : بست لوبډله د امو پر وړاندې

په دغه لوبه کې امو لوبډلې خپل سيال لوري ته د اوو ويکټو په توپير ماتې ورکړه. دا چې د يادې لوبې پچه امو لوبډلې ګټلې وه؛ لومړی يې د سيالې لوبډلې پر وړاندې د توپ اچونې پرېکړه وکړه. بست لوبډلې د ټولو ۵۰ اوړونو د لوبولو په پايله کې د پنځو ويکټو په غورځېدو سره سيال لوري ته ۲۱۷ منډو هدف وټاکه چې له منځه يې ناصر جمال ۷۰، احسان الله جنت ۶۹ او منير احمد ۴۷ ناسوځيدلې منډې جوړې کړې. وروسته امو لوبډلې د ټاکلي هدف پوره کولو په موخه توپوهنه پيل کړه. امو لوبډلې ټاکلی هدف د لوبې په ۴۵،۲ اوړ کې د ۳ ويکټو په سوځېدو سره پوره کړ او ياده لوبه يې له بست څخه د ۷ ويکټو په توپير وګټله. دا په داسې حال کې ده چې امو ته په توپوهنه کې جاويد احمدي ډېرې ۱۲۵ ناسوځېدلې، ۳۷ منډې زاهد زاخېل او ۲۱ منډې عبدالملک ترسره کړې او خپله لوبډله يې تر بريا ورسوله.

څلورمه لوبه: سپین غر د بند امیر پر وړاندې

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام لېسټ اې سیالیو په څلورمه لوبه کې بند امیر لوبډلې سپین غر لوبډلې ته د ۴۴ منډو په توپیر ماتې ورکړه. په پیل کې د لوبې پچه سپین غر لوبډلې وګټله او بند امیر لوبډلې ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بند امیر لوبډلې په ټولو ۵۰ اورونو کې د څلورو ویکټو په غورځېدو سره ۲۷۷ منډې جوړې کړې او سپین غر ته یې د ۲۷۸ منډو هدف وټاکه.

بند امیر ته په توپوهنه کې درویش رسولي ۱۰٦ ناسوځېدلي، کریم جنت ۵۲ او حضرت الله ځاځي ۴۷ زیاتې منډې ترسره کړې، په داسې حال کې چې سپین غر ته په توپ اچونه کې طاهرخان او باطن شاه ۲-۲ ویکټې واخیستې. وروسته سپین غر لوبډلې د ټاکلي هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه چې د لوبې په ۴۹،۲ اور کې یې د ټولو ویکټو په سوځېدو سره یوازې ۲۳۳ منډې جوړې کړې او بند امیر لوبډلي ته یې د ۴۴ منډو په توپیر لوبه وبایلله. سپین غر لوبډلې ته په توپوهنه کې زبید اکبري ٦٧، طارق ستانکزي ٦١ منډې ترسره کړې. بند امیر ته په توپ اچونه کې نجات مسعود ۳، حمزه هوتک او نوین الحق ۲-۲ او کریم جنت یوه ویکټ واخیسته.

پنځمه لوبه: مس عینک د امو لوبډلې پر وړاندې

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام لېسټ اې (یو ورځنیو) سیالیو په پنځمه لوبه کې امو لوبډلې مس عینک لوبډلې ته د ٦ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. دا چې د لوبې د توپوهنې پاڼی د مس عینک لوبډلې ته ورکړل شوې وه، مس عینک لوبډلې په ۴۲ اورونو کې د ټولو ویکټو په غورځېدو سره ۱۴۹ منډې جوړې کړې او امو لوبډلې ته یې د ۱۵۰ منډو هدف وټاکه. وروسته امو لوبډلې د ټاکلي هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه. امو لوبډلې د ۴ ویکټو په غورځېدو سره ټاکلی هدف د لوبې په ۳۲،۳ اور کې پوره کړ او مس عینک لوبډلې ته یې د ٦ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. د یادولو وړ ده چې شرف الدین اشرف چې د خپلې لوبډلې په ګټه یې ۵ ویکټې ترلاسه کړې وې، د دغې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

شپږمه لوبه: بست لوبډله د سپین غر پر وړاندې

په دغه لوبه کې د سپین غر فرهاد مومند او اکرام علي خېل ډېره په زړه پورې لوبه ننداري ته وړاندې کړه چې په پایله کې یې سپین غر لوبډلې خپل سیال لوری د ۱۱۱ منډو په توپیر له ماتې سره مخ کړ. په یاده سیالۍ کې د لوبې پچه بست لوبډلې وګټله او سپین ته یې د توپوهنې بلنه ورکړه چې سپین غر لوبډلې سیال لوري ته په ټولو ۵۰ اورنو کې د شپږو ویکټو په غورځېدو سره ۲٦۳ منډې ترلاسه کړې چې له منځه یې اکرام علي خېل، ۵۱ ناسوځېدلې، تمیم سرخرودي او بهير شاه هر يوه ۴۴ منډې وکړې. ورپسې بست لوبډلې د ټاکلې هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه. بست لوبډلې د لوبې په ۳۹،۳ اورونو کې د ۹ ویکټو په غورځېدو سره یوازې ۱۵۲ منډې جوړې کړې او خپله دریمه لوبه یې سپین غر لوبډلې ته د ۱۱۱ منډو په توپیر وبایلله. دا چې د سپین غر لوبډلې چټک توپ اچونکي فرهاد مومند چې په مهم وخت کې یې د بوست لوبډلې ۳ لوبغاړي سوځولي و، د یادې لوبې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړه.

اوومه لوبه: مس عینک د بند امیر پر وړاندې

په دغه لوبه کې مس عینک لوبډلې بند امیر لوبډلې ته د ۵ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. دا چې مس عینک لوبډلې د لوبې پچه ګټلې وه، بند امیر لوبډلې ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بند امیر لوبډلې په پوره ۵۰ اورونو کې د اوو ویکټو په سوځېدو سره ۲۷۳ منډې جوړې کړې او مس عینک ته یې د ۲۷۴ منډو هدف وټاکه. ورپسې مس عینک لوبډلې د ټاکلې هدف پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه. مس عینک لوبډلې ټاکلی هدف د لوبې په وروستي توپ د ۵ ویکټو په غورځېدو سره پوره کړ او د بریا تر بریده یې ځان ورساوه.

اتمه لوبه : امو لوبډله د سپین غر پر وړاندې

په اتمه لوبه کې د امو لوبډلې، د سپين غر لوبډلې ته د ۵ ويکټو په توپير ماتې ورکړه او بريا يې خپله کړه. د اتمې لوبې له پيلېدو وړاندې، پچه د سپين غر لوبډلې وګټله او لومړی يې د توپوهنې پرېکړه وکړه. سپين غر لوبډلې په لومړۍ پاڼۍ کې د لوبې په ۴۱،۵ اورونو کې د ټولو ويکټو په غورځېدو سره ۱۴۷ منډې جوړې کړې او اامو لوبډلې ته يې د ۱۴۸ منډو هدف وټاکه. ورپسې امو لوبډلې د توپوهنې پاڼۍ پيل کړه چې د لوبې په ۴۰،۴ اور کې د ۵ ويکټو په غورځېدو سره ټاکلی هدف پوره کړ او خپله دريمه بريا يې د سپين غر له لوبډلې څخه د ۵ ويکټو په توپير خپله کړه چې له منځه يې امو ته په توپوهنه کې فرهان زاخېل ۳۹، افسر ځاځي ۳۳ ناسوځېدلي او شرف الدين اشرف ۲۳ ناسوځيدلي منډې ترسره کړې. سپين غر ته په توپه اچونه کې قيس احمد ۳ او فريد ملک ۲ لوبغاړي وسوځول.

نهمه لوبه : بست لوبډله د مس عينک پر وړاندې

د يادو سياليو په نهمه لوبه کې مس عينک لوبدلې بست لوبډلې ته د ۲ ويکټو په توپير ماتې ورکړه. د دغې لوبې پچه مس عينک لوبډلې وګټله او بوست ته يې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بوست لوبډلې په ټاکلو ۵۰ اورونو کې د ۹ ويکټو په سوځېدو سره ۱۸۹ منډې جوړې کړې او مس عينک ته يې د ۱۹۰ منډو هدف وټاکه چې له منځه يې نصيب الله ۷۲ ډېرې منډې ترلاسه کړې. ورپسې د مس عينک لوبډلې د توپوهنې پاڼۍ پيل کړه چې د لوبې په ۴۹،۴ اورونو کې يې د ۸ لوبغاړو په بهر کېدو سره د سيالې لوبډلې هدف پوره کړ او بست ته يې د ۲ ويکټو په توپير ماتې ورکړه. مس عينک ته په توپوهنه کې رحمت شاه ۴۵، غمي ځدراڼ ۴۳ او احسان الله احسان ۲۵ ناسوځيدلي منډې ترسره کړې، په داسې حال کې چې بست ته په توپ اچونه کې احمد ضياء درې ويکټې واخيستې.

لسمه لوبه: امو لوبډله د بند امیر پر وړاندې

د یادو سیالیو په لسمه لوبه کې امو لوبډلې بند امیر لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکولو سره د دغو سیالیو پایلوبې ته لار ومونده. په پیل کې د لسمې لوبې پچه امو لوبډلې وګټله چې سیالې بنډامیر لوبډلې ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بنډامیر لوبډلې په ټولو ۵۰ اورونو کې د ۹ لوبغاړو په بهر کېدو سره ۱۸۰ منډې جوړې کړې او امو ته یې د ۱۸۱ منډو هدف وټاکه. بنډامیر ته تر ټولو غوره توپوهنه اصف موسی زي ترسره کړه چې د خپلې لوبډلې په ګټه یې ۸۹ منډې جوړې کړې، په داسې حال کې چې امو ته په توپ اچونه کې ننګیالي خروټي ۳، عظمت الله عمرزي او میرویس اشرف ۲-۲، ویکټې واخیستې.

وروسته امو لوبډلې د ټاکلي هدف د پوره په موخه توپوهنه پیل کړه چې د لوبې په ۳۲،۱ اورونو کې یې د ۳ ویکټو په سوځېدو سره هدف پوره کړ او بند امیر ته یې د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه. امو ته په توپوهنه کې جاوید احمدي ۷۴، زاهد زاخیل ۵۴ او افسر ځاځي ۲۲ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې.

یوولسمه لوبه یا د ایلیمینیټر پړاو: مس عینک د بند امیر پر وړاندې

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان جام لیسټ اې سیالیو په ایلیمینیټر لوبه کې نن مس عینک لوبډلې د بنډامیر لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکړه او د یادو سیالیو پایلوبې ته یې لاره ومونده. د یادې لوبې پچه مس عینک لوبډلې وګټله او بند امیر لوبډلې ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. بند امیر لوبډلې د لوبې په ۳۳،۱ اور کې د ټولو ویکټو په غورځېدو سره ۱۲۹ منډې جوړې کړې او مس عینک لوبډلې ته یې د ۱۳۰ منډو هدف وټاکه چې بند امیر ته په توپوهنه کې درویش رسولي ۵۲ ډېرې منډې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې مس عینک ته په توپ اچونه کې ضیاء الرحمن اکبر ۵ او حسیب الله ۳ ویکټې واخیستې.

وروسته مس عینک لوبډلې د ټاکلي هدف د پوره کولو په موخه توپوهنه پیل کړه. مس عینک لوبډلې ټاکلی هدف د لوبې په ۳۷،۳ اورونو کې د ۳ ویکټو په غورځېدو سره پوره کړ او بند امیر لوبډلې ته یې د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکولو سره د روانو سیالیو پایلوبې ته لار ومونده. مس عینک ته په توپوهنه کې رحمت شاه ۶۸ ناسوځېدلې، عمران میر ۳۶ او غمي ځدراڼ ۱۷ ناسوځېدلې منډې جوړې کړې. په دغه سیالۍ کې د مس عینک لوبډلې توپ اچونکی ضیا اکبر چې د بنډامیر لوبډلې ۵ ویکټې یې ا خیستې وې، د لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو.

پایلوبه: مس عینک د امو پر وړاندې

مس عینک لوبډلې، امو لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ورکولو سره د ۲۰۲۰ کال د غازي امان خان جام یو ورځنیو (لېسټ اې) سیالیو اتلولي یو ځل بیا په خپل نوم کړه او په دې سره یې د اتلولۍ مقام وساته. د یادې لوبې پچه مس عینک لوبډلې وګټله او سیالې امو لوبډلې ته یې لومړی د توپوهنې بلنه ورکړه. امو لوبډلې په ټاکلو ۵۰ اوړونو کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو سره ۲۶۰ منډې جوړې او مس عینک ته یې د ۲۶۱ منډو هدف وټاکه. امو ته په توپوهنه کې عبدالمالک ۱۰۷، افسر ځاځي ۴۶، عظمت الله عمرزي ۴۲ او ننګیالی خروټي ۲۹ منډې ترلاسه کړې. په داسې حال کې چې مس عینک ته په توپ اچونه کې ضیاء شریفي، ظاهر خان، او ضیا اکبر ۲-۲ ویکټې واخیستې. ورپسې مس عینک لوبډلې د ټاکلي هدف پوره کړلو په موخه توپوهنه پیل کړه. مس عینک لوبډلې ټاکلی هدف د ۳ ویکټو په غورځېدو سره د لوبې په ۴۶،۱ اور کې پوره او د پایلوبې اتلولي یې خپله کړه. مس عینک ته په توپوهنه کې رحمن الله ګربز ۱۲۸ ډېرې، رحیم منګل ۴۳، شاهد الله کمال ۳۶ ناسوځېدلي او رحمت شاه ۱۹ منډې جوړې کړې. پر همدې بنسټ، رحمن الله ګربز چې په پایلوبه کې یې ۱۲۸ منډې جوړې کړې وې، د پایلوبې غوره لوبغاړی ونومول شو. د امو لوبډلمشر جاوید احمدي چې په روانو سیالیو کې یې ۲۵۳ منډې جوړې کړې او همدارنګه یې ۳ لوبغاړي له ډګره ایستلي وو، د یادو سیالیو غوره لوبغاړی، رحمت شاه د ۲۵۷ منډو په جوړولو سره غوره توپوهونکی، ظاهر خان د ۱۳ لوبغاړو په بهر کولو سره غوره توپ اچونکی او ځوان چټک توپ اچونکی حسیب الله د ۱۰ ویکټو په سوځولو سره د ۲۰۲۰م کال د غازي امان الله خان جام سیالیو د ځوان یا ایمرجېنګ لوبغاړی ونومول شول.

د ۱۶ کلنو کم عمره لوبغاړو سیالی

ملي اکاډمي د روزنځایونو ترمنځ د پیل شویو سیالیو اتلولي وګټله

افغانستان کرکټ بورډ د لوبې پرمختیا څانګې د لومړي ځل لپاره د کابل پر ملي کرکټ لوبغالي د کابل ولایت د اتو ثبت وزنځایونو ترمنځ سیالۍ ترسره کړې چې په پایله کې یې ملي کرکټ روزنځای د یادو شل اوریزو سیالیو اتلولي په خپل نوم کړه.

له ١٦ کلنو د کم عمره لوبغاړو د یادو سیالیو په ترڅ کې د محمد نبي کرکټ اکاډمي، راشد خان کرکټ اکاډمي، کاروان کرکت اکاډمي، زرملوال کرکټ اکاډمي، ملي کرکټ اکاډمي، ویکټري کرکټ اکاډمي، ایوبي کرکټ اکاډمي او ستار کرکټ اکاډمي د یو بل پر وړاندې ډګر ته ښکته شوې. د یادو سیالیو د پایلوبې پچه ملي کرکټ اکاډمي وګټله او د سیالۍ

کاروان اکاډمي پر وړاندې یې لومړی توپوهنه تر سره کړه. ملي اکاډمي په ټاکلو شلو اوړونو کې د ۷ ویکټو په سوځېدو سره ۱۴۲ منډې جوړې او کاروان اکاډمي ته یې د ۱۴۳ منډو هدف کېښود. ملي اکاډمي ته په توپوهنه کې سبحان الله زیاتې ۴۵، هجرت الله ۳۲ او مکمل خان ۲۲منډې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې د کاروان اکاډمي ته په توپ اچونه کې زبیر او فیصل ۲-۲، الله محمد، ګل ولي او عبدالکریم یوه - یوه ویکټ واخیسته. وروسته کاروان اکاډمي د ټاکلي هدف د پوره کولو په موخه د خپلې توپوهنې پاړۍ پیل کړه. په پای کې کاروان اکاډمي لوبډلې ټاکلی هدف ته ځان ونه رساوه او د نهو ویکټو په سوځېدو سره یې ۱۳۸ منډې جوړې کړې او له سیال لوري یې د څلورو منډو په

توپیر ماتې ومنله. کاروان اکاډمي ته په توپوهنه کې مصطفی سلیم ۳۹، فیصل خان ۳۳ او عبدالکریم ۱۸ منډې جوړې کړې. باید ووېل شي چې ملي اکاډمي ته په توپ اچونه کې پوپل درې، مکمل او حمید دوه ـ دوه او سیف الله یوه ویکټ واخیسته. په پای کې د یادونې وړ ده چې د محمد نبي اکاډمي توپوهونکی حسن عیسی خېل د ثبت روزنځایونو ترمنځ د ترسره شویو سیالیو مخکښ توپوهونکې وپېژندل شو چې د خپلې لوبډلې په ګټه یې ۳۰۰ منډې جوړې کړې وې. همدارنګه د ملي کرکټ اکاډمي توپ اچونکی چې په سیالیو کې یې نهه ویکټې سوځولې وې، د غوره توپ اچونکي او د ستار کرکټ اکاډمي ځوان لیګ بریک توپ اچونکی نثار احمد بیا د

یادو سیالیو د ځوان یا ایمرجېنګ لوبغاړي مقام ترلاسه کړ او همدارنګه د توپنیونې او ډګر ساتنې په برخه کې هم یو شمېر لوبغاړي له ځانه وړتیا وښودله چې شهباز، حبیب الله، حامد خان، شکرالله او میهن خان یې ښې بېلګې دي. یادې سیالۍ چې د اکتوبر میاشتې په ۲۱ مه نیټه پیل شوې وې، د همدې میاشتې په ۳۱مه د دوه مخکښو لوبډلو ملي اکاډمي او کاروان اکاډمي ترمنځ پای ته ورسېدې او ملي اکاډمي یې اتلولي ترلاسه کړه.

په نړدې راتلونکې کې د ایمرجینګ لوبډله جوړیږي

د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه د پرېکړې پر بنسټ به په نږدې راتلونکي کې د ایمرجېنګ (له ۲۳ کلنو د کم عمره) لوبغاړو لوبډله رامنځته شي چې له جوړېدو سره سم به د یو شمېر بهرنیو هېوادونو له لوبډلو سره چې د کرکټ له ادارو سره یې په تړاو خبرې رواني دي؛ لوبې ترسره شي.
په یاده لوبډله کې به د تېر نړیوال جام د ۱۹ کلنو افغان لوبډلې پیاوړي لوبغاړي او هغه لوبغاړي شامل وي چې د داخلي کرکټ په کچه ښه ځلېدلي وي او خپلې وړتیاوې یې ښودلې وي.
دافغانستان کرکټ بورډ، کرکټ ډایرېکټر ښاغلي رییس احمدزي په دې اړه وایي: له شک پرته به یاده لوبډله د ملي لوبډلې ترخنګ یو ښه غوراوی او ګزینه وي چې په راتلونکي کې به له یادې او

الف لوبډلو؛ ملي لوبډلې ته ځوانان د وړتیا او ځلېدو له مخې لاره غوره شي.
ښاغلي احمدزي همدارنګه زیاته کړه: موږ په همدې موخه له اوسه د کرکټ له یو شمېر بهرنیو ادارو سره خبرې پیل کړې، ترڅو د لوبډلې له رامنځته کېدو وروسته ورسره لوبې هم چمتو کړو او داسې لوبغاړي یې له منځه راوباسو چې زموږ اساسی هدف دی.
د یادولو ده چې د افغانستان کرکټ بورډ دغه چاره په راتلونکي کې د یوې ځوانې ملي لوبډلې د رامنځته کولو په موخه ترسره کوي، ترڅو په نړیوالو ډګرونو کې له ځوان استعداد او انرژۍ ګټه واخلي او له مخې یې هېواد ته لا ډېر ویاړونه راوړي.

د بهسودو کرکټ لوبغالی د

نجیب تره کـــــي

په نوم ونومول شو

د کرکټ ملي لوبډلې پیاوړی او تکړه توپوهونکی نجیب الله تره‌کی څه موده وړاندې په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي شو او بیا یې د ننگرهار ولایت په یوه روغتون کې ساه ورکړه. د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه د پرېکړې پر بنسټ، دا چې نوموړی د ټولو هېوادوالو لپاره د یوه اتل مقام لري او همېشه یې د خپل هېواد بیرغ ځلولی؛ د ننگرهار د بهسودو کرکټ لوبغالی د نجیب الله تره کي په نوم ونومول شو.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي په دې اړه وویل: له شک پرته نجیب تره‌کی د غوره اخلاقو خاوند او د هېواد یوه ستره پانگه وه چې په مړینې سره یې موږ ټول د غم پر ټغر کېنولو، د هغه یاد به تل له موږ سره ژوندی پاتې شي او روح ته به یې دعاوې کوو.

ښاغلي یوسفزي وویل، ملي لوبغاړو د افغانستان بیرغ تل د نړۍ پر ډگرونو رپانده ساتلی چې له ډلې یې نجیب تره کی هم یو له هغو لوبغاړو و چې د افغانستان د نوم لوړ ساتلو لپاره یې تل هلې ځلې کړې دي او د دوی د هلو ځلو پر مټ موږ خپلو هېوادوالو ته ویاړونه او خوښۍ ورکړې دي.

د یوسفزي په وینا: موږ هم باید د نوموړي د قربانیو او هلو ځلو پر قدر پوه شو چې له امله یې غواړم د ننگرهار ولایت د بهسودو کرکټ لوبغالی د یاد ملي اتل په نوم ونوموم چې دغه لوبغالی به له دې وروسته به د ملي ستوري نجیب الله تره‌کي په نوم یادېږي.

د یادولو ده چې د ملي ستوري نجیب الله تره‌کي کرکټ لوبغالي د لومړي پړاو چارې د بشپړېدو په حال کې دي چې ډېر ژر به یې دویم او وروستي دریم پړاو رغنیزې چارې هم په معیاري او ښه توگه پیل شي.



RANA Technologies Enterprises

The most trusted ISP/ICT Company in Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is a dynamic and leading ISP/ICT and BPO Company in Afghanistan, providing high-quality broadband Internet services, ICT "Turn-key" solutions, and BPO services since 2005



Services

Internet Service
IT Hospital
Malomaat 411
RANA BPO

For more information call
0798 85 85 85

RANA رانا TECHNOLOGIES

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan
www.ranatech.com
info@ranatech.com

تیم کرکت معلولین سپین غر جام نجیب الله تره کی را از آن خود نمود

خوانندهگان گرامی این بار در مجله کرکت بورد افغانستان، خلاصهی بازی های بیست اوره مسابقات معلولین ستاره ملی نجیب الله تره کی را برای تان آماده کرده ایم، خدا کند مورد علاقه تان قرار بگیرد.

جام قهرمانی مسابقات نجیب الله تره کی (مسابقات کرکت معلولین) را تیم سپین غر بالای سر برد. این بازی ها که از تاریخ ششم ماه دهم سال ۲۰۲۰ بین تیم های زون سپین غر، مس عینک، آمو، بند امیر و بست در ورزشگاه بین المللی کابل آغاز شده بود، به تاریخ ۱۳ همین ماه به قهرمانی تیم زون سپین غر به پایان رسید که هدف اصلی این بازی ها آمادگی و پیدا کردن استعداد ها بین بازیکنان دارای معلولیت بود.

بازی نخست: تیم بست در مقابل بند امیر

بازی نخست این مسابقات بین تیم های بازیکنان دارای معلولیت بست و بند امیر برگزار شد که قرعه بازی را تیم بند امیر برد و نخست به توپزنی پرداخت که توانست ۱۰۹ دوش به تیم مقابل هدف تعین کند. تیم بست هدف تعین شده را در آور ۱۸ هم بدست آورد و بند امیر را با تفاوت سه ویکیت شکست داد و در نتیجه حزب الله توپزن تیم بست به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

بازی دوم: مس عینک مقابل سپین غر

بازی دوم بین تیم های بازیکنان دارای معلولیت مس عینک و

سپین غر انجام شد که قرعهی این بازی را تیم مس عینک برد و با توپزنی در نیمه نخست ۱۲۳ دوش به تیم حریف هدف تعین کرد. تیم سپین غر در نیمه دوم بازی به توپزنی آغاز کرد که توانست هدف تعین شده را در آور نهم بدست آورده و بازی را به سود خود تمام نماید. نوراسلام توپ انداز تیم سپین غر به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

بازی سوم: امو مقابل بست

بازی سوم بین تیم های آمو و بست انجام شد که این بازی به سود تیم بست پایان یافت. قرعه این بازی را تیم آمو برد و نخست به توپ اندازی پرداخت. تیم بست در نیمه نخست آغاز به توپزنی کرد و در بیست آور ۲۰۱ دوش به تیم مقابل هدف تعین کرد که در نتیجه تیم آمو نتوانست هدف تعین شده را بدست بیاورد و بازی را با تفاوت ۱۳۰ دوش، به بست واگذار کرد. محمد یوسف توپزن قدرتمند تیم آمو، به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

بازی چهارم: سپین غر مقابل بند امیر

تیم سپین غر در بازی چهارم مسابقات ستاره ملی نجیب الله تره کی بند امیر را به شکست مواجه نمود. قرعه این بازی را تیم بند امیر برد و با پرداختن به توپزنی، ۱۷۵ دوش به تیم سپین غر هدف تعین کرد که تیم سپین غر در نیمه دوم بازی، در آور بیستم هدف تعین شده را بدست آورد و توانست تیم مقابل را با تفاوت چهار ویکیت شکست بدهد.

بازی پنجم: آمو مقابل مس عینک

در بازی پنجم مسابقات ستاره ملی نجیب الله تره کی تیم آمو در مقابل مس عینک شکست را پذیرفت. این بازی بین تیم های مس عینک و آمو برگزار شد که

در نهایت، بازی با اختلاف چهار ویکیت به سود تیم مس عینک پایان یافت. قرعه این بازی را تیم آمو برد و نخست به توپزنی آغاز کرد که در بیست آور تعین شده با از دست دادن شش ویکیت ۱۴۱ دوش به تیم مقابل هدف تعین کرد که تیم مس عینک با از دست دادن شش بازیکن توانست هدف تعین شده را در آور ۱۷،۳ بدست بیاورد و بازی را با تفاوت چهار ویکیت به سود خود تمام نماید. جایزه بهترین بازیکن این بازی را وسیم مندوزی بدست آورد.

بازی ششم: سپین غر مقابل تیم بست

تیم سپین غر در بازی ششم مسابقات نجیب الله تره کی تیم بست را با تفاوت ۱۹ دوش شکست داد و سومین بازی این مسابقات را به سود خود تمام کرد. قرعه این بازی را تیم سپین غر برد و در بیست آورد تعین شده توانست ۲۰۳ دوش را به تیم مقابل هدف تعین نماید که تیم بست در نیمه دوم بازی ۱۸۴ دوش انجام داد و نتوانست هدف تعین شده را بدست بیاورد. اشرف کپتان تیم سپین غر به عنوان بهترین بازیکن بازی اعلام شد.

بازی هفتم: مس عینک مقابل بند امیر

بازی هفتم این سلسله مسابقات، بین تیم های مس عینک و بند امیر برگزار شد که در نهایت، بازی به سود تیم مس عینک پایان یافت. قرعه این بازی را تیم مس عینک برد و توانست در بیست آور تعین شده با از دست دادن شش ویکیت ۱۷۲ دوش را به تیم مقابل هدف تعین نماید، که تیم بند امیر در نیمه دوم بازی با انجام دادن ۱۶۳ دوش نتوانست هدف یاد شده را بدست بیاورد و بازی را با تفاوت ۹ دوش به مس عینک واگذار کرد.

فاروق خان به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

بازی هشتم: تیم سپین غر مقابل آمو

بازی هشتم سلسله مسابقات نجیب الله تره کی بین تیم های سپین غر و آمو در ورزشگاه بین المللی کرکت کابل برگزار شد، که قرعه این بازی را تیم سپین غر برد و در بیست آور تعین شده، ۱۳۲ را دوش به تیم آمو هدف تعین کرد. تیم آمو در نیمه دوم بازی به توپزنی پرداخت که در ۱۹ آور با از دست دادن تمام ویکیت ها ۱۰۷ دوش انجام داد و بازی را با تفاوت ۲۵ دوش به تیم مقابل واگذار کرد و سپین غر توانست چهارمین بازی را به گونه پیهم به سود خود تمام نماید. صبورخان توپزن تیم بازیکنان دارای معلولیت سپین غر به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

بازی نهم: سپین غر مقاب بست

تیم سپین غر برنده بازی نهم مسابقات نجیب الله تره کی شد. بازی نهم بین تیم های بازیکنان دارای معلولیت سپین غر و بست برگزار شد که قرعه این بازی را تیم مس عینک برد و توانست در آور نزدهم با از دست دادن تمام ویکیت ها، ۱۳۷ دوش انجام دهد و ۱۳۸ دوش، به تیم بست هدف تعین نماید. مس عینک هدف یادشده را در آور ۱۸ام با ازدست دادن چهار ویکیت، بدست آورد و از این جمله طفیل خان به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد. در نتیجه این بازی های تیم های سپین غر، بست، مس عینک و آمو توانستند به مرحله چهار بهترین این مسابقات راه پیدا کنند.

مرحله چهار بهترین:

نخستین بازی مرحله دوم: سپین غر مقابل تیم بست

اولین بازی مرحله چهار بهترین مسابقات نجیب الله تره کی بین تیم های سپین غر و بست انجام شد. قرعه این بازی را تیم بست برد و نخست به توپزنی پرداخت که در بیست آور با از دست دادن پنج ویکیت ۱۶۷ دوش به تیم مقابل هدف تعین نمود. تیم سپین غر در نیمه دوم بازی به توپزنی آغاز کرد که نتوانست هدف تعین شده را بدست بیاورد و بازی را با تفاوت چهل دوش به تیم بست واگذار کرد. قدرت الله توپزن تیم بست با بهترین توپزنی توانست جایزه بهترین بازیکن این بازی را بدست بیاورد.

بازی دوم مرحله چهاربهترین:
مس عینک مقابل امو

دومین بازی مرحله چهار بهترین مسابقات ستاره ملی نجیب الله تره کی به سود تیم آمو پایان یافت. قرعه این بازی را تیم مس عینک برد و توانست ۱۳۷ دوش به تیم مقابل هدف تعین نماید. تیم آمو در نیمه دوم بازی به هدف بدست آوردن هدف تعین شده به توپزنی آغاز کرد که با از دست دادن هفت بازیکن هدف تعین را بدست آورد و توانست به مرحله نیمه نهایی راه یابد.

سومین بازی مرحله چهار بهترین: سپین غر مقابل امو

تیم های سپین غر و آمو برای رسیدن به مرحله نهایی در بازی سوم مرحله چهار بهترین مسابقات ستاره ملی نجیب الله تره کی به مصاف هم رفتند. قرعه این بازی را تیم آمو برد و فیصله کرد که نخست در برابر تیم سپین غر توپ اندازی نماید، تیم سپین غر در نیمه نخست به توپزنی آغاز کرد و توانست با از دست دادن پنج ویکیت ۱۴۵ دوش به تیم مقابل هدف تعین نماید.تیم آمو نتوانست هدف تعین شده تیم سپین غر را بدست بیاود. شمو افغان به عنوان بهترین بازیکن این بازی اعلام شد.

در نتیجه تیم های سپین غر و بست توانستند به مرحله نهایی مسابقات ستاره ملی نجیب الله تره کی راه پیدا کنند.

بازی نهایی:
تیم سپین غر مقابل بست

تیم های سپین غر و بست در بازی نهایی مسابقات بازیکنان دارای معلولیت ستاره ملی نجیب الله تره کی در ورزشگاه کرکت بین المللی کابل به مصاف هم رفتند که در نهایت تیم سپین غر توانست جام این بازی ها را بالای سر ببرد. قرعه بازی نهایی را تیم بست برد و نخست در برابر تیم سپین غر به توپزنی پرداخت که با ۵۹ دوش شعیب خان، ۴۳ دوش نبی الله و ۲۵ دوش قدرت الله ۱۵۴ دوش به تیم سپین غر هدف تعین کرد. در نیمه دوم بازی نهایی تیم سپین غر به توپزنی پرداخت و توانست در آور ۱۷،۲ با از دست دادن چهار ویکیت و با ۷۱ دوش شمو افغان، ۳۸ دوش نور اسلام و ۱۴ دوش صبور خان هدف تعین شده تیم بست را بدست آورد و توانست قهرمان این فصل شوند. شمو افغان با انجام دادن ۷۱ دوش جایزه بهترین بازیکن این بازی را بدست آورد. لازم به ذکر است که در پایان مسابقات بازیکنان دارای معلولیت ستاره ملی نجیب الله تره کی، جایزه بهترین بازیکن و بهترین توپزن تورنمنت به شمو افغان توپزن تیم سپین غر و جایزه بهترین توپ انداز به جمیل مندوزی توپ انداز تیم مس عینک داده شد.

د کرکټ بورډ د اداري څانګو پېژندنه

د افغان کرکټ مجلې لپاره مو ستاسو لپاره دا ځل د افغانستان کرکټ بورډ د اداري څانګې سره څانګړې مرکه کړې چې د يادې څانګې عمومي فعاليتونه، ورځنۍ چارې، د دوی موخې، په دغه څانګه کې اصلاحات او نور اړوند موضوعات درسره په لاندې مرکه کې شريکوو چې د همدې څانګې له مسوول ښاغلي حامد رشيدي سره مو پرې خبرې اترې کړې دي.

د اداري څانګې کارکوونکي:

د دغې څانګې مسوول حامد رشيدي دی چې د اداري او مديريت په برخه کې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او په خپله برخه کې ډېره ښه تجربه او کاري وړتيا لري چې د تېرو لسو کلونو راهيسې په خپله برخه کې ډېر مؤثره ثابت شوی دی. د نوموړي سربېره په ياده څانګه کې څلور نور کارکوونکي هم پر دندو بوخت دي چې دوه يې د لېسانس تر کچې زده کړې لري او دوه نور يې د لېسانس پر زده کړو بوخت دي. ښاغلی احسان الله سېلاب چې د لېسانس تر کچې زده کړې لري د ارتباطاتو او اړيکو د افيسر په توګه پر دنده بوخت دی. د اداري د ګدام يا سټاک مسول رازمحمد هم ترلسانس کچې لوړې زده کړې لري، همدارنګه د يادې څانګې دوه نور کارکوونکي هر يو سيد مختار او امير محمد د لسانس زده کړو ترخنګ د يادې څانګې دوه نور غوره همکاران دي. ياده څانګه د کرکټ بورډ يوله مهمو څانګو ده چې د اداري د لومړيو اړتياو پوره کولو لپاره په دندو بوخت دي.

اداري څانګه په څو ټکو کې:

اداري څانګه د اسانتياو او نورو

ځانګو سره د کار کولو او فرصتونو رامنځته کولو ځانګه ده. د کرکټ بورډ اړوند د اړیکو، تحریراتو، مکتوبونو د ثبت او راجستر او اداري اړوند ځانګو خدمات ترسره کوي.

د دغي اداري اساسي او مهمي چارې:

د کرکټ بورډ اداري اړوند ټولو ځانګو ته خدمتونه وړاندې کول، اداري کارمندانو ته اړینې اسانتیاوې او امکانات برابرول لکه ټرانسپورټیشن، کارمندانو ته د خوراک او څښاک د تنظیم، د دفترونو سوتره والي، تنظیف او نظافت، ریسپشن (د معلوماتو ځانګې) ترتیب او تنظیم اوپه ټولو چارو کې د روڼتیا او شفافیت رامنځته کول د اداري ځانګې اساسي او مهمې چارې تشکیلوي.

ورځني کارونه او مسوولیتونه:

- د کلنیو، میاشتنیو او اونیزو پلانونو له مخې د غوره همغږۍ رامنځته کولو ناستې ترسره کول.
- د نورو اداراتو سره غوره هماهنګي رامنځته کول.
- د نورو اداراتو مکتوبونو ثبت او راجستر کول.
- د عرایضو او وړاندیزونو اخیستل، تحلیل او د کرکټ بورډ رهبرۍ سره یې پر وخت شریکول.
- اداري کارکوونکو ته اسانتیاوې رامنځته کول او د دوی ورځنۍ اړتیاوې پوره کول.

د کرکټ بورډ اړوند له ټولو اداري چارو څارنه او د کار د غوره کیفیت لپاره هلې ځلې کول او اصلاحاتو او روڼتیا رامنځته کول دي.

د دغې ځانګې شعار:

د افغانستان کرکټ بورډ ټولو کارکوونکو ته د غوره خدمتونو وړاندې کول، له بهر سره د اداري غوره او بهتره اړیکې ساتل او په ټولو چارو کې د روڼتیا مراعاتول.

موخې او اهداف:

- په اساسي ډول د ټولو اداري چارو پر مخ وړل.
- له هره اړخه اداري ځانګه په سمه معنا جوړول.

- د کرکټ بورډ اړوند د ټولو ځانګو لپاره بشپړ او اړینې اسانتیاوې رامنځته کول.
- د لا ډېرو اصلاحاتو رامنځته کولو په موخه د یو ډیجیټل سیستم او ډیټابیس جوړول.
- اداره کې غوره او بشپړه همغږي رامنځته کول.
- د اداري د برق یا بریښنا سیستم منظم کول.
- د اداري د ټرانسپورټیشن منظمول او د جي پي ایس سیستم رامنځته کول.
- د تېلو او اړوند لګښتونو لا ډېر کنټرول.

د افغانستان د کورني کرکټ له ځلانده ستوري

عظمت الله عمرزي

سره ځانګړې مرکه

د افغان کرکټ مجلې قدرمنو او ښاغلو لوستونکو دا ځل مو ستاسو لپاره د کورني کرکټ له پیاوړي او تکړه لوبغاړي عظمت الله عمرزي سره مرکه کړې، چې نوموړی به له موږ سره په دغه مرکه کې کرکټ ته د مخه کولو، له یادي لوبې سره د لېوالتیا، په لوبو کې د ځلېدو او همدارنګه د خپل شخصي ژوند په اړه خبرې اترې وکړي چې تاسو یې لوستلو ته رابولو. د کورني کرکټ پیاوړی او ځلانده ستوری ښاغلی عظمت الله عمرزی ستړي مه شئ او هر کله راشې.

پوښتنه: که د افغانستان د کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته په بشپړ ډول ځان وپېژنې مهرباني به مو وي؟

ځواب: نوم مې عظمت الله، تخلص عمرزی دی، د کونړ ولایت اوسېدونکی یم او د افغانستان د کرکټ یو تن لوبغاړی.

پوښتنه: ښاغلی عمرزی، که دا راته ووایاست چې څنګه مو کرکټ ته مخه وکړه او دغه لوبه مو ولې پیل کړه؟

ځواب: له کرکټ سره مې له ماشتوبه مینه وه. کله چې په ۲۰۱۴ ز کال کې د اسیا جام سیالۍ پیل شوې او په دغو سیالیو کې افغانستان د بنګله دېش پر وړاندې په زړه پورې لوبه وکړه او بریا یې هم خپله کړه، نو هغه ورځ وه چې له کرکټ سره مې بېحده مینه پیدا شوه او د خپلې کورنۍ په خوښه راته اجازه راکړل شوه، ترڅو د کرکټ لوبې ته مخه وکړم.

پوښتنه: کرکټ مو له کومه ځایه پیل کړ؟

ځواب: له ټېنېس توپ مې پیل کړی او کله به مو هم چې په کوڅو کې له خپلو ملګرو سره کرکټ کاوه نو په خپلو ملګرو کې به د حساب لوبغاړی زه وم، له هغه وروسته راغلم او د کرکټ بورډ روزنځای یا کرکټ اکاډمي کې مې کرکټ پیل کړ چې د کرکټ په اړه ټول مالومات او تخنیکونه مې بیا همدلته زده کړل.

پوښتنه: عمرزي څرنګه وکولی شول، ترڅو تر دې ځایه ځان راورسوي؟

ځواب: له شک پرته په اکاډمي کې څه زما خپل زیار او کوښښ و او څه هم د خپلو روزونکو هڅې وې چې په کرکټ کې مې تر یو بریده وړتیا ترلاسه کړه، نو له هغې راهیسې مې بیا ګام په ګام د ټیټو کچو سیالیو ته لاره بیامونده او لوبې مې پکې وکړې او په هره سیالۍ کې به ما له ځانه وړتیا هم ښودله او د ډېرې روزونکو باور مې ترلاسه کړ چې په پایله کې مې، د ۱۹ کلنو لوبډلې ته لار ومونده.

پوښتنه: د روزونکو سربېره مو ایا له بل چا هم روزنه ترلاسه کړې ده؟

ځواب: روزونکو له ما سره خورا زیار ایستلی او دا چې زه اوس الراونډر یم نو غټ راز دا دی چې له ما سره د توپ اچونې په برخه کې حمید حسن چې د افغانستان لپاره یې ډېرې لاسته راوړنې راوړې، ما ترې ډېر څه زده کړي، یعنې ښه استادان مې مې حمید حسن او زما مشر ورور نواب خان دی.

پوښتنه: د کرکټ سربېره له څه سره مینه لرئ او له څه کرکه کوې؟

ځواب: له شک پرته له خپل هېواد افغانستان سره ډېره مینه لرم، همدارنګه د خپلې کورنۍ له غړو او ټولو هېوادوالو سره هم ډېره مینه لرم او باید ووایم چې له کرکټ وروسته مې د سنو کر له لوبې سره هم مینه شته، او که د کرکې په اړه درته ووایم نو له نفرت او کینې ډېره کرکه لرم.

پوښتنه: ښاغلي عمرزي تر کومې کچې پورې زده کړې کړې دي؟

ځواب: له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی یم او لوړې زده کړې مې له کرکټ سره د لېونۍ مینې له امله قرباني شوې، خو پلان لرم چې د کرکټ ترڅنګ لوړو زده کړو ته هم دوام ورکړم.

پوښتنه: په بهرنیو او کورني کرکټ لوبغاړو کې مو د خوښې لوبغاړي څوک دي؟

ځواب: په بهرنیو لوبغاړو کې مې ویرات کوهلي او په کورني لوبغاړو کې مې محمد نبي د خوښې لوړ لوبغاړي دي.

پوښتنه: په ورستیو کې که خپلو هېوادوالو ته کوم پیغام لرې؟

ځواب: خپلو هېوادوالو ته دا پیغام لرم چې په خپلو بچو زده کړې وکړي، د مشرانو قدر او احترام وکړي او هغه څه وکړي چې له امله یې په ټولنه کې په نېک نوم پاتې شي او د افغانستان سره ډېره مینه وکړي.

پنځه هغه لوبغاړي چې په شل اوريزو نړيوالو لوبو کې يې زياتې ويکټې اخيستې

کرکټ لوبه اوسمهال د نړۍ په کچه يو له هغو ورزشونو څخه ده چې خورا ډېر مينه وال لري او د لوبو پر مهال يې مليونونه کسان د تلويزيون پر پردې او له نږدې ننداره کوي. له شک پرته چې کرکټ لوبې ته اسانه لوبه هم نه شو ويلى، بلکې د پياوړتيا، ذهني تکتيکونو، چالاکۍ، د فشار زغملو او جذبې لوبه ده. دغه راز همدا لوبه ده چې له امله يې ځينو کسانو په اصطلاح لوبغاړو نړيوال شهرت موندلى او په ترڅ کې يې د بريا تر څوکو ځانونه رسولي دي او د هر وګړي په ژبې ګرځي.

په دغه کوچنۍ مقاله کې مو هڅه کړې، ترڅو تاسو ته هغه کسان در وپېژنو چې د يادې لوبې په شل اوريزه بڼه کې يې په ترتيب سره تر ټولو زياتې ويکټې اخيستې دي.

د سريلانکا لاسيت ملېنګا

د کرکټ ډېرى مينه وال د ملېنګا له نوم سره اشنا دي، د کرکټ نړۍ ته د نوموړي د راتګ له پيل تر اوسه د هغه چټکه او غوره توپوهنه د دې لامل شوې، ترڅو ډېر مينه ال خپل کړي.

نوموړى د نړيوالو شل اوريزو لوبو د اوسنۍ درجه بندۍ په نوملړ کې له ټولو مخکښ لوبغاړى دى چې د خپل روزګار له امله يې په ياده بڼه کې تر اوسه لومړى مقام خپل کړى دى. د ۲۰۰٦ له پيل تر ۲۰۲۰ز کال پورې نوموړي د ۱٦،۸ سټرايک رېټ په درلودلو سره په ۸۴ شل اوريزو نړيوالو سياليو کې لوبې تر سره کړې چې په يادو ټولو سياليو کې يې د ۲۹۹،۵ اورونو په لوبولو او ۲۲۲۵ منډو په ورکولو ۱۰۷ ويکټې اخېستي دي او تر دې دمه کوم بل لوبغاړى په دې نه دى توانېدلى، ترڅو د نوموړي ياده کارنامه او يام مقام ترلاسه کړي. نوموړي چې په ۲۰۱۹ز کال کې يې د نيوزيلنډ پر وړاندې يوه سيالۍ کې د شپږو منډو په ورکولو سره پنځه وېکټې تر لاسه کړې، په ياده بڼه کې د هغه تر ټولو غوره کارکردګي بلل کېږي.

د پاکستان شاهد افريدي

د نړيوالو شل اوريزو لوبو په ياد نوملړ کې د ملېنګا سربېره د ډېرو ويکېټو اخيستو دويم مقام د پاکستان لوبډلې الراونډر شاهد افريدي لري. شاهد افريدى له ۲۰۰٦ ـ ۲۰۱۸ زېږديز کال پورې په ۹۹ شل اوريزو نړيوالو سياليو کې لوبې ترسره کړې ۲۲،۱ سټرايک ريټ لري، د ۳٦۱،۲ اورونو په لوبولو او د ۲۳۹٦ منډو په ورکولو سره يې ۹۸ وېکټې ترلاسه کړې دي چې تر ټولو غوره کارکردګي يې د نيدرلېنډ لوبډلې پر وړاندې ترسره کړې چې د څلورو اورونو په ترسره کولو سره يې ۱۱ منډې ورکړې او څلور ويکټې اخيستې دي.

د بنګله دېش شکيب الحسن

د بنګله دېش شکېب الحسن د شل اوريزو نړيوالو لوبو هغه لوبغاړى دى چې په دې نوملړ کې دريم ځاى لري. شکېب الحسن تر دې دمه په شل اوريزو سياليو کې له ۲۰۰٦ ـ ۲۰۱۹ ميلادي کال پورې، ۷٦ شل اوريزې لوبې کړې، سټرايک رېټ يې ۱۸،۱ دى، ټول يې ۲۷۷،۵ اورونه لوبولي او ۱۸۹۴ منډو په ورکولو سره يې ۹۲ وېکټې تر لاسه کړې او د ډېرو ويکټو د اخيستو کارنامه يې د وېسټ انډيز پر وړاندې سيالۍ کې تر لاسه کړې چې په ياده سيالۍ کې يې د ټولو اورونو په تر سره کېدو ۲۰ منډې ورکړې، او پنځه لوبغاړې يې له ډګره ايستلي و.

د افغانستان راشد خان

د هېواد راشدخان خان هغه لوبغاړی دی چې د نړۍ په کچه ډېر ځلېدلی او د کرکټ د هر مینه وال په ژبه د نوموړي نوم ګرځي، راشدخان بېلابېل ریکارډونه خپل کړي چې په دغه بڼه لوبه کې هم څلورم مقام لري. ځلانده ستوري راشدخان له ۲۰۱۵ ـ ۲۰۲۰ میلادي کال پورې ۴۸ شل اوریز نړیوالې لوبې کړې، په دغو لوبو کې یې ۱۸۳ اورونه لوبولي او سیالو لوبډلو ورڅخه ۱۱۲۴منډې ترلاسه کړې او له همدې امله د ۱۲،۳ سټرایک ریټ لري، ډېرې وېکټې یې د ایرلنډ لوبډلې پر وړاندې اخیستې. په دې سیالۍ کې نوموړي د دوو اورونو په لوبولو سره یې یوازې درې منډې ورکړې او پنځه لوبغاړي یې له ډګره ایستلي دي.

د پاکستان عمر ګل

د یادې درجه بندۍ پنځم مقام ګټونکی د پاکستان بل لوبغاړی ګړندی توپ اچونکی عمرګل دی چې د کرکټ د شل اوریزو لوبو د ډېرو وېکټو اخیستو په نوملړ کې یې دغه مقام ساتلی. له ۲۰۰۷ـ۲۰۱٦ میلادي کاله پورې یې په ټولټال ٦۰ شل اوریزو نړیوالو لوبو کې ګډون کړی دی. د ۱۴،۱ سټرایک ریټ په لرلو د ۲۰۰،۳ اورونو په لوبولو سره یې ټولې ۱۴۴۳ منډې کړې او ۸۵ لوبغاړي یې له ډګر بهر کړي، په یادو سیالیو کې یې تر ټولو غوره کارکردګي د نیوزلنډ لوبډلې پر وړاندې ترسره کړې چې په یاده سیالۍ کې یې د دریو اورونو په لوبولو سره شپږ منډې له لاسه ورکړې، په پایله کې یې پنځه وېکټې تر لاسه کړې دي.

from the Government of India. IPL 2020 will be played from 19th September and the final will be played on 10th November 2020. The 53-day tournament will witness 10-afternoon matches starting at 15:30 IST while the evening matches will start at 19:30 IST.

7 Title Sponsor (2020 – Dream11, 2019 -VIVO)

The IPL Governing Council has announced the schedule for Dream11 Indian Premier League 2020 to be held in UAE. The season will kickstart on 19th September in Abu Dhabi with a blockbuster clash between defending champions Mumbai Indians and Chennai Super Kings.

8. New partners

The Indian Premier League Governing Council (IPL GC) announced India's largest learning platform Unacademy as Official Partner for IPL beginning with the 2020 edition which will be held in the UAE from September 19th onwards. The partnership will cover three seasons of IPL.

The Bengaluru-based edutech firm, Unacademy, aims to build an online knowledge repository for multilingual education by bringing expert Educators together from across the globe

9. New Jersey

Each edition of the Indian Premier League (IPL 2020), IPL franchises unveils new team kits with new sponsors. Be it the Chennai Super Kings, Mumbai Indians, Royal Challengers Bangalore, Kolkata Knight Riders, Delhi Capitals, Rajasthan Royals, Sunrisers Hyderabad, KingsXI Punjab, each team be spotting new kits with new sponsors.

10. No saliva on ball IPL 2020; All you need to know about 10 things that makes IPL 2020 different from IPL 2019

In a recent ruling passed by the International Cricket Council (ICC) in the wake of Covid-19 pandemic, the apex body confirmed interim changes to its playing regulations, which include the ban on the use of saliva to shine the ball and allowing home umpires in international series. It also decided to allow teams to have a replacement for players showing Covid-19 symptoms in Test matches. All these changes were recommended by the global body's cricket committee led by former India captain Anil Kumbl

teresting statistics presented by a panel of select experts.

Star Sports, the official broadcaster for Indian Premier League 2018 has introduced Star Sports Select: The Dugout, a hyper-personalised curated offering this IPL season for the cricket fan who wants more. The Select Experience, on Star Sports Select, will provide fans with richer analytical experience coupled with a stimulating narrative during and post matches for a fan who would like to stay ahead of the Game.

3. Timings changed (2020 – 7:30 pm, 2019 – 8:00 pm)

Defending champions and five-time winner Mumbai Indians will take on last season's runner-up Chennai Super Kings in the opening match. The afternoon matches will begin at 3:30 pm IST and evening matches will start at 7:30 pm IST. The match timings have been preponed by half an hour this season.

4.Bio-Bubble

IPL different from some of the other bio-bubbles is how spread out it is. England's cricket bio-bubble, that hosted tours of West Indies, Pakistan and now Australia involves just two venues, and all players, staff and officials living on site. The Caribbean Premier League had all the players and staff put up at one hotel. The NBA too had 22 teams huddled together at one location. The IPL has eight teams camping in different hotels in Dubai and Abu Dhabi and traveling every day for practice.

5. Social Distancing

In a detailed Standard Operating (SOPs) sent to the IPL franchises, exclusively available with India Today, the BCCI has listed safety protocols that need to be followed by the franchises from before boarding their chartered planes to the UAE till the final ball is bowled in the tournament.

Regular testing to prevent the reduce the risk of asymptomatic spread of the novel coronavirus is going to be a permanent feature throughout IPL 2020, scheduled to be held in the UAE from September 19 to November 10, subject to clearance from the Indian government.

6. New calendar this

Taking note of the prevailing COVID-19 situation in India, the IPL GC decided to stage the tournament in the United Arab Emirates (UAE) and the matches will be played in Dubai, Sharjah and Abu Dhabi subject to necessary clearances

IPL 2020

VS

IPL 2019

IPL 2020

10 Things which makes 13th IPL edition different

The 13th edition of the Indian Premier League (IPL 2020) is set to get underway from September 19, with the finals being played on November 8. However, in the wake of the pandemic, the upcoming season had to be shifted out of Indian and will be held in UAE. This year, the cricket extravaganza will be different from the previous 12 editions. Here are 10 things which will make Indian Premier League edition different.

1. IPL 2020 will be held in UAE

The upcoming IPL 2020 will be played in UAE- in Abu Dhabi and Dubai. Separate hotels for franchises, social distancing in dressing rooms, electronic team sheets and recommendations for virtual and outdoor team meetings are part of the directives issued by the BCCI. Players will not be allowed to meet teammates immediately upon arrival in the UAE. Players can interact only after returning 3 negative Covid-19 PCR tests upon arrival in the UAE.

All franchises have been asked to appoint a team doctor who will be responsible for ensuring bio-secure guidelines during the tournament. The franchise medical team should obtain a complete medical and travel history (since 1st March 2020) of all players and team support staff at least 2 weeks before the scheduled departure to UAE.

2. Fans will not be present in the stadium for the first time

With the rising cases of Covid-19 and to maintain the norms of social distancing, the IPL 2020 will be played without the presence of fans in the stadium.

Star Sports has curated #Select Dugout for the core cricket fan with in-depth analysis, augmented reality, in-

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A World of Possibilities

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan Universityearned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at Kardan.edu.af

عزیزی بانک
Azizi Bank

انټرنټ له لارې بانکوالي

- د عزيزي بانک په حسابونو کې په يو وار د زياتو معاملاتو ترسره کول
- څو سطحي يا د څو صلاحيت لرونکو تاييد (ګڼ واکونه)
- په ګروپ کې د يوصلاحيت لرونکي تاييد (ډله ايز واکونه)

24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af
MasterCard RTC SWIFT WESTERN UNION WU برېښنا mPaisa ATM
f in YouTube